مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۷/۱۸

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

**(د افغانستان سیاسي تأریخي ګزیتر)**

## پینځم ټوک

## کندهار

## او

## د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه او اوه څلویښتمه پرله پسي برخه

ایدیت:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**مندېسار**: یا: مندیصار: ۳۲ – ۳۱، ۵۱ – ۶۵ «ن»: دا د کویټي پر سړک د کندهار له ختیځه تقریباً ۱۰ مایله لیري یو کلی دی او د تورن بیسکو په راپور کي کندهار ته د نیږدو کلیو په منځ کي یاد سوی دی چي ۱۰۰ کورونه او ۶۵۰ تنه استوګن وګړي لري. نوموړی وایي چي دا کلی یوه ژرنده، ۷۰ اوښان او ۳۰۰ پسونه لري او د ۲۲۱ هندي روپیو په اندازي مالیات ورکوي. بیسکو وایي چي د کمپ په سیمي کي اوبـهٔ د ترنک له سیند څخه دي. د کمپ تر ډې سیمي په ۱۸۷۹ز کال کي یو مدافعوي دیوال راتاو سو او د میل ماندي خندق ته ورته یو خندق هم ورته کیندل سو؛ د همدې کال د مي په میاشت کي د ۳۰ سپرو یوه مفرزه په کي ځای پر ځای سوه. له دې ځایه تر کندهار پوري واټن ۱۳ مایله او تر تخته پل چي د کویټي پر سړک بله پوسته ده،د ۱۵ مایله دی. «بیسکو، آی. بي. سي.»

"دا احاطه اوس «۱۸۹۳زکال کي» په ډیر ښـهٔ حالت کي ده او د لږ سختي په زغملو کیدای سي بیا و کارول سي. د کوټو ګنبدی په خپلو زوایاو کي په فوق العاده عالي حالت کي دي او کوټي په خپله خاصه دارانو نیولي دي. د غوجلونو کتارونه او نوري څیزې پاک کاری ته اړتیا لري". «بیټ»

استوګن وګړي ئـې نورزي او بارکزي دي. «بومي معلومات ۱۹۰۶»

**مندین زي**: د اسحق زیو درانیانو یوه څانګه ده. «بیسکو»

* **مندیصار**: وګوری: مندیسار

**مندوزي**: دا د بریڅو یوه څانګه ده چي په ښوراوک کي میشت ده. «میتلند»

**مندوزي**: ۳ – ۳۰ ، ۵۸ – ۶۵ «ن»: دا یو ډیر لوی کلی او یا په بله وینا د کلیو یوه ټولګه ده چي د لوړه له ښي غاړي یو مایل لیري د ښوراوک د دښتي په مرکز کي واقع دی. د کلیو شمال ته یو نیمه کندوالـه سرای یا مدافعوي احاطه ده چي لوی والی ئـې د پام وړ دی. دا ځای د مندوزي کلا په نوم یادیږي. په پخوا وختونو کي د بریڅانو هرې څانګي ځانته دغسي یوه "کلا" درلودله چي په کي به خلک له خپلو رمو او کورنیو سره اوسیدل او کله به چي له لویدیځ خوا څخه یرغل وربانديٍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

راغی نو د غو کلاګانو ته به ئـې پناه یوړه خو په دې وروستیو کلونو کې دا ستونزې له یوې مخې ورکې سوې او نور دا خلک داسې کلاګانو ته اړتیا نـهٔ لري له همدې کبله دوی دا کلا ګانې همداسې پرې ایښې دي او نړیدلې دي. د مندوزیو کلا له «ابو زیو» [1] ۵ مایله او له جت پوټي ځخه ۲/۱ ۸ مایله لیرې واقع ده. زیارت له شمال لوري لویدیځ خوا ته تقریباً ۲/۱ ۳ مایله لیرې واقع دی. «سیی بت» [2] [سمه بڼه ئـې سید بت دی – ژ] چې د برېځو د کلیو په منځ کې تر ټولو لیرې سویلي کلی دی تقریباً ۱۷ مایله لیرې دی. په شیراني کې د میرو خان کلی چې د لوړه په بل اړخ کې دی د سړک له لارې ۵ مایله لیرې دی.

د مندو زیو شپږ مشخص کلي دي. د دغو کلیو نومونه د مندوزیو د شپږو فرعي قومي څانګو نومونه دي:

لومړی: الکوزي: ویل سوي چې ۲۰۰ جونګړې کورونه دي. دا د سرای په شمال ختیځ کې واقع او قسماً له نورو ځخه جلا دی. دوهم: شموزي: ۲۰۰ جونګړې کورونه دي. دا د سرای په سویل ختیځ کې واقع او له الکوزیو تقریباً نیم مایل لیرې دی. دریم: «کسین زي» [3] ۲۰۰ جونګړې کورونه. څلورم: سمي زي [4] «ښایي سمیع ئـې سمه بڼه وي – ژ» ۲۰۰ جونګړې کورونه. د دې کلي وګړي د سیند په کیڼې غاړې کې ځمکې لري او د محمد رضاء په کلي کې په کال کې د ۵ یا ۶ میاشتو لپاره اوسیږي او د ځمکو د حاصلاتو له لو کولو وروسته د مې په میاشت کې بیرته مندو زیو ته ستنیږي. پینځم: زنګي زي: ۳۰۰ جونګړې. شپږم: سالارزي: ۴۰۰ جونګړې. سالارزي هم د سیند په کیڼې غاړې کې ځمکې لري او د خپلو ځمکو د کرلو لپاره د یار محمد کلي ته ځي. د ۷۰ جونګړو کلی دی؛ اووم کلی چې د «آخیزیو» [5] په نوم یادیوي یو شمیر کسان ئـې په همدې ډلې کې شمیرې خو داسې ښکاري چې دوی دی د سالارزیو یا زنګي زیو یوه برخه وي.

په هر کلي کې د جونګړو شمیر هماغه دی چې په خپله د کلیو خلکو ورکړی دی. د ۱۵۰۰ تنو جنګیالیو شمیر دقیقاً هاغه شمیر دی چې د مندوزیو څانګه ئـې ادعا کوي چې کولای سي حضور پیدا کړي. له همدې امله باید حدس ووهو چې په مندوزیو کې ۱۵۰۰ کورنۍ دي. دا جونګړې په حقیقت کې څپرۍ دي او د شوراک د څپریو عامه بڼه لري او هره برېځ کورنۍ دوه یا درې داسې څپرۍ لري؛ یوه څپرۍ په ځانګړې توګه د دوی د کورنیو مواشیو لپاره ده. موږ ګومان کولای سوی چې د مندوزیو د وګړو په حقیقي شمیر کې پینځه یا شپږ سوه کورنۍ باید وي. د څپریو یا جونګړو په منځ کې څو ښـهٔ کورونه هم سته په ځانګړې توګه په دوه وو کلیو کې چې له یو بل سره په دښمنۍ کې دي. د ډیریو جونګړو پاټې شونې چې په کلیو کې خوارهٔ وارهٔ دي د کلیو ظاهري بڼه ډیره ښکاره کوي. همدې حالت ته په کتلو دا ټوله ساحه ډیره پراخه ښکاري، یوازې که په سترګو ئـې اندازه کړو نو دا ځای د مایل له ثلث ځخه لږ نـهٔ دی. د کلیو تر منځ تشه خړوبو پټیو ډکه کړې ده. په مندوزیو کې دوه یا درې بقالي هټۍ او یوه د پښ هټۍ سته. اوبـهٔ ئـې پریمانه دي او د اوبو لګولو له نهرونو ځخه دی، خو دا اوبـهٔ تروې دي او هغوی باندې چې ورسره بلد نـهٔ دي ناوړه اغیزه کوي. دلته ۱۰ څاهان دي چې د کلیو په منځونو کې جوړ سوي دي. د شموزیو او سالارزیو تر منځ یوه څاه چې و ازمویل سوه خولـهٔ ئـې ګردۍ وه، قطر ئـې ۲/۱ ۴ فیټه او تقریباً ۱۵۰ فیټه ژوره وه. د اوبو را ایستلو لپاره معمولاً اوښان کارول کیږي، د څاه اوبـهٔ ښې او خوږې دي. ویل سوي چې د اوبو اندازه تل ډیره وي، له دغو څاهانو ځخه له دوبي پرته ډیر کار نـهٔ اخیستل کیږي، ځکه له دوبي پرته نورو فصلونو کې اوښان د اوبو د راایستلو لپاره نـهٔ کاروي. د مندوزیو کرنیزه خړوبه ځمکه ډیره پراخه ده او د کلیو په ګرد چاپیره کې ده. دا ځمکې یو لږ څه سویل لور ته غځیدلې دي او له هغې ورهاخوا د لوړه د سیند په ښۍ غاړه کې تر «سید بت» [6] پورې نوره کرنیزه ځمکه نـهٔ سته. په حقیقت کې د مندوزیو سیمه د ښوراوک د دښتې د استوګنو سیمو د برخې حد جوړوي. ګرد چاپیره سیمه همواره او مخ خلاصې ده یوازینۍ استثناء د اوبو لګولو نهرونه دي چې اکثراً په پورې غاړه اوښتلو کې ستونزه جوړوي. د لوړه د اوبو بهیر په خپله یوه هیبتناکه مانعه ده. دلته له لوړه ځخه بلې غاړې ته اوښتل میرو خان ته د تللې لارې له طریقه کیږي «د ولي کوتل د (ایلتاز تر کاریز) [7] پورې» له لارې چې ۲۰۰ یارده ارت دی او دنګ شیب لرونکي غاړې لري. کوتل ته ختل د یوهٔ «چور» [8] یا تنګې ژورې درې له لارې کیږي، چې د رس د نرمې خاورې په منځ کې یوه ژوره قطع سوې لاره ده. له سینده اوښتل د اوښانو لپاره زښت ډیر آسان ول خو د توپچي ځواک لپاره غیر عملي وو. د لوړه د سیند بستر معمولاً وچ وي. له مندوزیو ځخه بهوسه په پریمانه اندازه ترلاسه

---

1 - Abuzai
2 - Sayyibut
3 - Kasinzai
4 - Samezai
5 - Akhezai
6 - Sayyidbut
7 - Iltaz Karez
8 - chur


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کیدای سيږ همدا شان غنم خو اورهٔ ئي ډیر نهٔ دي. د اوبو ژرندې په نیږدې شاو خوا وو کې نهٔ سته؛ نیږدې ترینې ئې د دښتې په شمال ختیځ گوټ کې دي چې له مندوزيو څخه تقریباً ۱۴ مایله لیرې دی. وربشې او مې په ندرت موندل کیږي.
د مندوزیو په نوم د کمپ سیمه هغه سیمه ده چې د بنگال د څلورم پلي ځواک یو کوچنی کتار د ډگرمن رابرتسن تر مشرۍ لاندې دلته د ۱۸۸۰ز کال د اکتوبر او نوامبر په میاشت کې د څو اونیو لپاره پاتې سو، دا کمپ د ځمکې د هغې تړانگې په ۲ مایلۍ کې واقع دی چې د «حسابت» [9] په نوم یادیږي او د لوړه د نالې او د شگو د غونډیو تر منځ واقع دی. «میتلند»
*په دې نوم بل کلی په ۴۲ – ۳۱، ۳۳ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.*
**منگلزي:** دا د دراني پوپلزیو یوه څانگه ده. «بیسکو»
* **منگو:** ۳۶ – ۳۱، ۳۳ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د دروازگی شمال ته د سړک پر غاړې د رشید د کلا د شمال په تقریباً ۶ مایلی کې یو کلی دی.
* **منگور:** ۳۲ – ۳۳، ۴۲ – ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولایت کې د منگور د سیند پر غاړې، د کفترخانې د سویل په تقریباً ۸ مایلی کې او د «بمبلستان» [10] په شمال ختیځ کې یو کلی دی.
* **ماني غر:** [11]: دا د روزگان په ولایت کې د روزگان د کلي په شمال لویدیځ کې د «کمیسان» [12] د اوبو د بهیر پر غاړې یو کلی دی.
**مانجه:** دا د ترنک د سیند په ښي غاړې باندې په قریه جاتو کې یو کوچنی کلی دی. *اوسنی نقشې د «مانجي کلی» په ۴۱ – ۳۱، ۵ – ۶۶ «ن» کې ښیي.*
**منصور:** ۲۲ – ۳۱، ۳ – ۶۶ «ج»: دا د ډورۍ د سیند له ښي غاړې تقریباً ۲/۱ ۲ مایله لیرې یو کلی دی. دا کلی د «غونډ منصور / غونډۍ – ی - منصور» [13] تر نامهٔ لاندې شرحه سوی دی.
په دې نوم یو بل کلی د «لهار» [14] پر غاړه دی چې له ارغنداب سره د یو ځای کیدلو له ټکي تقریباً ۱۵ مایله پورته دی. «آی. بي. سي.» *په دې نوم بل کلی د «گردام» [15] د شمال په تقریباً ۳ مایلی کې په ۴۱ – ۳۲، ۵۱- ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*
**منصور**: دا جت پوټي ته نیږدې د علي زیو یو کلی دی. «میتلند»
**منصور آباد**: ۴۷ – ۳۱، ۴۸ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د شمال په ۲/۱ ۱۴ مایلی کې د ارغنداب په کیڼې غاړې کې یو کلی دی. دا یو نسبتاً مهم ځای دی ځکه دلته له کندهاره یوه لاره راغلې او د کندهار او ارغنداب تر منځ له غرنۍ لړۍ څخه اجتناب کوي او د منصور آباد ته نیږدې د یوهٔ ټیټ کوتل له لارې د ارغنداب له درې څخه تیریږي. قلات غلزایي ته د سړک پر غاړې د مهمند او رباط تر منځ له منصور آباد څخه یو سړک دښتې ته تللی دی. «بیسکو، آی. بي. سي.»
**منصور کاریز**: دا د توبه – غزني سړک پر غاړې د دمې نیولو ځای دی. وگورئ: شپږم ټوک. په دې نوم یو ځای د «سپین تاک» [16] په تقریباً ۲ مایلی کې په ۳۲ – ۳۲، ۴۹ – ۶۷ «ج» کې واقع دی.
**منو خیل**: مانو خیل: [17]: – ۳۲، – ۶۵: دا په خاکریز کې د درې په شمال ختیځ پای کې یو کلی دی. «لینس»
**منزکي**: د کند سیند د «سورځنگل» [18] او د «لوړه ډگر» [19] د دښتو له منځه د یوهٔ مخ خلاصي بهیر په ترڅ کې له تیریدلو وروسته د «دوم» [20] د یو ځای کیدنې له ټکي کښته په ښي لاس کې د « تور منزکي» [21] او په کیڼ لاس کې د « بهادیني» [22] په غرونو کې محصور کیږي. تور منزکي د منزکي د غرونو دوام دی چې د سیند په کیڼې غاړې کې په هغې زاویې کې پروت دی چې د کند – دوم د یو ځای کیدنې ټکي جوړ کړی دی. «بن»

---

[9] - Hisabat
[10] - Bambalestan
[11] - MANI GHAR: ددغهٔ نامهٔ مخې ته ئې په عربي الفباء «مني غار» لیکلی دی زما ژباړونکي په باور دا باید «ماني غر» وي - ژ
[12] - Kamisan
[13] - Ghund -i- Mansur
[14] - Lahar
[15] - Gardam
[16] - Spin Tak
[17] - MANU KHEL
[18] - Surzangal
[19] - Lora Dagar plains
[20] - Dom
[21] - Tor Manzakai
[22] - Bahadinai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**منزل باغ**: ۳۷ – ۳۱، ۴۴ – ۶۵ «ج»: دا د قلات – غلزايي – کندهار د سړک په کيڼ لاس کې په ديوالونو کې محاط يو باغ دی چې د کندهار د کابل له دروازې څخه تقريباً ۲ مايله ليرې د استحکاماتو په ختيځ مخ کې واقع دی او سړک له همدې ځايه تقريباً ختيځ خوا ته تللی دی. وګورئ: "د کندهار ښار"

**ماپان**: ۱۰ – ۳۲، ۳۶ – ۶۷ «ن»: دا د «جالو» د کوتل په شمالي خوا کې د «ارغسان» لوړه د ختيځ په تقريباً ۱۰ مايلی د «کيشاني غلزيو» [23] يو کوچنی کلی دی. له دې ځايه اوبـهٔ ترلاسه کيدای سي او ښايي د اړتيا وړ توکي هم ورڅخه لاس ته راسي. (آی. بي. سي.)

* **مار آباد**: يا: **مير آباد**: ۴۱ – ۳۲، ۲ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې «سرخ ليز» [24] ته نيږدې د تيرين د سيند پرغاړه يو کلی دی.

* **ماره**: ۳۲ – ۳۲، ۴۴ – ۶۶ «ن»: دا د «ښوی» [25] سيند پر غاړه د «دای چوپان» په سويل لويديځ کې د زابل په ولايت کې د ښادي د کلي د شمال ختيځ په تقريباً ۱ مايلی کې يو کلی دی.

**مراني الګاد**: مرني الګاد: دا د «دومانديي» - غزني د سړک پر غاړه د ګومل سيند ته نيږدې له دومانديي څخه ۲/۱ ۳۵ مايله ليرې د دمې نيولو ځای دی. دلته ښې اوبـهٔ سته او په کافي اندازې دي. دلته نـهٔ د اړتيا وړ توکي سته او نـهٔ کورونه. «بومي سروې کوونکی، ۱۹۰۴»

**مرنجان**: ۴۴- ۳۱، ۴۴ – ۶۵ «ن»: دا له کندهاره ۹ مايله ليرې د «سر دِهٔ عليا» د شمال په ۱ مايلی کې د ارغنداب په درې کې د «پاتاب» د نهر پر غاړې يو کلی دی.

* **مار بُلاق**: ۵۹ – ۳۱، ۴۳ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د جلدک د شمال په څو مايلی کې د جلدک د سيند پر غاړې يو کلی دی.

**مربوزه**: دا د «سندک» [26] د شمال په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی. «آی. بي. سي.» په دې نوم يو کلی په ۱۹ – ۳۱، ۳۸ – ۶۷ «ن» کې موقعيت لري.

**مرد غيب**: وګورئ: نخاس

* **مرد قلعه**: ۳۱ – ۳۱، ۴۳ – ۶۵ «ن»: دا د ترنک د سيند پر غاړې د کندهار په ولايت کې د کندهار د سويل په څو مايلی کې يو کلی دی.

**مردو زي**: ۴۸ – ۳۱، ۴۷ – ۶۵ «ج»: دا د ارغنداب د سيند پر ښی غاړه له «اويان» ۱۵ مايله کښته يو کلی دی. دلته د سيند په دواړو غاړو کې پريمانه کرهنه سوې او د اړتياوړ توکي په کې ځای پرځای ترلاسه کيدای سي. «ګيسلي» اوسنی نقشې د «مردان زيو» نوم ښيي.

**مردو زي**: دا د پوپلزي درانيانو يوه څانګه ده. «بيسکو»

**مرګ**: دا بلوڅ پر سرحد باندې د ۲۵ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

**مرګي قلعه**: ـ۳۱، ـ ۶۷: دا د توخي غلزيو کلی دی چې د کند د سيند د شمال په ۲ مايلی کې او په لويديځ کې د رشيد کلا او په ختيځ کې د عطاء محمد کلا تر منځ يو کلی دی. «بن» اوسنی نقشې د مرغی نوم په ۳۳ – ۳۱، ۳۴ – ۶۷ «ن» کې ښيي.

**مَرغه چمن**: ۶ – ۳۱، ۳۵ – ۶۶ «ن»: لوړوالی: ۴۵۰۰ فيته. دا يوه په وښو «چمن» ډکه دښته ده او د **هغو** غرونو په لمن کې واقع ده چې د توبې د لوړې سطحې شمال لويديځه ژۍ جوړوي. دلته د غرهٔ لمنه د دوه وو مايلو لپاره ورکه ده چې تشه ئـې د مرغزار يوې ستړې توتې ډکه کړې او په **هغو** چينو خړوبيږي چې د غرونو له لمنو څخه راپورته کيږي. د چمن حقيقي لويوالی ۲/۱ ۱ مايل اوږد او تقريباً نيم مايل پلن دی. د چمن په مرکز کې واښـهٔ لنډ او خوارهٔ دي او په ژيو کې بيا اوږدهٔ او لواړ دي؛ دا ټول چمن د باولينګ د لوبې په شان هموار دی. د کدني سيند چې د چمن په شمال کې له غرونو راکوزيږي د دښتې له منځه مخ پر لويديځ د دښتې له ژۍ څخه په لړ واټن کې بهيږي، د دې سيند د اوبو د بهير په اوږدو کې يوشمير کلي دي، د دغو کليو کرهنيزې ځمکې د سيند په اوبو خړوبيږي. له يوهٔ کلي په استثناء چې په احمدزيو اڅکزيو اړه لري د نورو ټولو کليو استوګن وګړي نورزي دي. همدا شان داسې ښکاري چې احمدزيو د سيمې په بلافاصله شمال او ختيځ کې غرنی سيمه هم نيولې وي. نور کلي دا دي: د يارو کاريز په لويديځ کې، کچې په شمال لويديځ کې، انورخان کلا او نور. د انور خان کلا کلی د نورو ټولو کليو په پرتلې چمن ته نيږدې دی. په ۱۸۷۹ز کال کې د دې سيمې

---

23 - Kishani Ghilzais
24 - Surkhlez
25 - Shuy river
26 - Sandak


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ملک، ملا شمشو قاضي [27] وو. د دې ځای خړوبه ځمکه د پام وړ ډیره ده خو اضافي محصول د «چمن پوست» [28] د زیرمتون له پلوه پیرودل کیدهٔ، پرته له هغې له دې ځایه د اړتیا وړ ډیر توکي تر لاسه کیدای سي. دلته په ګاونډ کې ۱۲ د اوبو ژرندې دي. په چمن کې ډیر خاروي څریدل او د برتانویانو په لاس د کندهار له اشغال مخکې د دې امتیاز لپاره خلکو د کندهار ښار، والي ته کوچنۍ مالیه ورکوله. دا پیسې په راتولو سویو مالیاتو کې نـهٔ محاسبه او د والي د لګښتونو په مجرا کې محاسبه کیدلې. د ۱۸۷۹ز کال له پیله بیا له چمن څخه د برتانوي ګارنیزیون تر وتلو پورې، د دې چمن وابښـهٔ د همدې ګارنیزیون یا پوستي لپاره ځانګړې سوي ول. د مرغه د چمن په شاو خوا کې د اوبښ څر لپاره ځایونه بې شماره دي، او سون لرګي له غرونو تر لاسه کیدای سي. د مرغې چمن لوړوالی ۴۵۰۰ فیټه دی او اقلیم ئـې د دوبي په اوج کې ښکلی او سوړ توصیف سوی دی. په ژمي کې د دښتي ټول وابښـهٔ د ۶ انچو په ژوروالي په اوبو کې پټ وي، خو دا د یوهٔ غیر معمولي باران یا واورې له وریدلو پرته په سختۍ سره پیښیږي. د توبې لوړې سطحې ته له مرغـهٔ څخه ۲ اساسي لارې راغلي دي. په دغو دواړو کې ډیره ښه لاره ئـې د کدني د سیند له بستر سره برابره تللې ده؛ دا لاره د «وانک» د لارې په نوم یادیږي او مرغه چمن ته نیږدې د کچې د کلي له څنګه تیریږي. د تورن شاورز او بریډمن ګور آی. اي تر مشرۍ لاندې د پښین د سرحدي پلټنې ډله توبې ته له همدې لاره راغله. د «پښه کوتل» [29] سخت دی؛ دا کوتل «توبین» او «ګوال» [30] ته مستقیمه لاره ورکوي خو د بار وړونکو اوښانو د تګ لپاره غیر عملي دی. سویل لور ته دریمه لاره تللې چې د «کنجاسو» [31] د لارې په نوم یادیږي خو داسې ښکاري دا دې یوازې یوه پل لاره وي. هغه لاره چې د «دامنِ کوه» یا د غرهٔ د لمنې له پاسه تیریږي د غرهٔ بیخ ته نیږدې ده او له لوړو ژورو ډکه ده خو په ټوله کې بده لاره نـهٔ ده. اوبـهٔ تقریباً په هرې تنګې ژورې درې کې موندل کیږي او د لارې په اوږدو کې که وغوښتل سي هر چیرې دمه نیول کیدای سي. له چمن څخه تر کندهار پورې د عمومي سړک پر غاړې د ګاټي یا د ګټې کمپ سیمه د دښتې بلې غاړې کې لویدیځ لور ته ۱۴ یا ۱۵ مایله لیرې ده.

د اختر او شموزیو «یا جمعه خان» کلي له چمن څخه شمال لویدیځ لور ته ۳ یا ۴ مایله لیرې دي. له همدې ځایه یوه لاره د شاه پسند او نورو ځایونو له لارې ملا مصطفی او د «کـُسه» [32] کوتل ته تللې ده. دا لاره کندهار ته متبادله لاره ده او د جنرال هف کاف د سپارهٔ ځواک لیوا چې د ۱۸۸۰ز کال د سپتمبر په میاشت کې بیرته هند ته ستنیدله له همدې لارې لاړه. له نوموړو کلیو له څنګه د تیریدني یوه بله لاره هم ښـهٔ مشخصه سوې لاره ده چې د ارغسان د درې شمال لور ته او همدا شان قلات غلزایي او نورو ته تللې ده. «میتلند»

**مَرغه کۍ**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا یوه ناله ده چې په شاو خوا کې ئـې کرهڼه هم سوې او «پسینانو» [33] پورې اړه لري چې د نخاس تر غرنۍ لړۍ لاندې د «پسین لوړه» [34] د سیند په شمال کې موقعیت لري.

* **مار غونډۍ**: [35]: ۳ ــ ۳۳، ۴۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې د «تنګې ماندې» [36] له اوبو سره د یو ځای کیدنې ټکي ته نیږدې د روزګان په ولایت کې د «کندلان» په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

* **مرګیان**: یا میرګیان: ۳ ــ ۳۱، ۱۷ ــ ۶۶ «الف» دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک د شمال لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

**مرجان**: یا: ماشورې: ۱۲ ــ ۳۲، ۲۱ ــ ۶۸ «الف» دا د وازې خوا غرنۍ لړۍ ته نیږدې د سلیمان خیلو یو کلی دی چې ۲۵۰ کورونه لري. دلته له کاریز څخه ډیرې ښې او پریمانه اوبـهٔ راځي. له دې ځایه د بهوسې په ګډون د اړتیاوړ توکي تر لاسه کیدای سي او هم د اوښ د څرلو لپاره ځای لري خو سون توکي او وابښـهٔ نـهٔ لري. «بومي معلومات ۱۸۹۴» *اوسنۍ نقشې د «مریانه» [37] نوم په ۱۱ ــ ۳۲، ۱۵ ـ ۶۸ کې ښیي.*

* **مار خور**: ۱۰ ــ ۳۴، ۵۸ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان د ولایت په شمال کې د «ناساه» [38] د ختیځ په تقریباً ۱ مایلۍ د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.

---

[27] - Mulla Shamsho Kazi

[28] -Chaman Post

[29] -Psha Pass

[30] -Tobin and Gwal

[31] - Kanjasu

[32] - Kussa pass

[33] - Pseins

[34] - Psein Lora

[35] - MARGHUNDAY: ددې نوم تر څنګ ئـې په عربي الفباء «مار غندی» لیکلي دي حال دا چې دا باید «مار غونډۍ» وي - ژ

[36] - Tangi Mandeh

[37] - Mariana

[38] - Nasah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**مرسين زي**: [39]: ۳۷ – ۳۱، ۶ – ۶۶ «ج»: دا د قريه جاتو په ولسوالۍ کې د «انهارِ مدوزي» [40] د ډلې په کليو اړوند د پوپلزيو يو کوچنی کلی دی چې ۴۳ کورونه او تقريباً ۱۲۳ تنه استوګن وګړي لري. دا کلی د ترنک د سيند په کيڼې غاړې کې واقع دی او له مهمند سره د يوۀ سړک په وسيلي وصل دی او له کندهاره د قلات غلزايي د سړک په اوږدو کې د کمپ لومړنۍ سيمه ده چې له قلات غلزايي څخه ۱/۲ ۱۲ مايله ليرې ده. جګړن کليفرډ وايي چې دا سيمه مدو زيو ته نيږدې ده، او د بيسکو په خبره مدوزي يو بل کوچنی کلی دی چې د همدغو کليو په ډلې پورې اړه لري. له ميرسين زيو څخه د مير علم تر کاريز پورې واټن د سړک له لارې ۱/۲ ۱۶ مايله دی دا سړک د «سګک» [41] د کوتل له لارې راغلی دی. داسې ښکاري چې د دې کلي اوبـۀ له کاريز څخه وي، کله چې د ۱۸۸۰ز کال د مارچ په مياشت کې د جنرال بارتر ليوا دې سيمې ته راغله د کاريز اوبـۀ ورباندې وتړل سوې. خو له څو ساعتو ځنډ وروسته اوبـۀ د کليوالو له پلوه بيرته خوشې سوې. له دې ځايه د اړتيا وړتوکي ترلاسه کيدای سي خو سون لرګي په قلت دی. «کليفرډ، بيسکو»

**مرسين زي**: ۴۰ – ۳۲، ۳۸ – ۶۷ «ج»: دا د پوپلزي درانيو يوه څانګه ده.

**مرتضی**: ۴۲ – ۳۲، ۳۹ – ۶۷: دا د ترنک د سيند په ښۍ غاړه د سړک له لارې له شاه جوی څخه ۱۹ مايله ليرې يو کلی دی. په ۱۸۸۰ز کال کې ګاونډۍ سيمه حاصلخيزه او ښه کرل سوې وه شاوخوا کليو ئـې ټولو مستطيل ډوله کلا ګانې درلودلې، دغو کلاګانو تيرکښونه درلودل او ديوالونه ئـې له ۲۰ تر ۲۵ فيټو لوړ ول او په هر ګوټ کې ئـې مورچلونه ول. له دې ځايه د اړتيا وړ توکي او اوبـۀ په پريمانه اندازه ترلاسه کيدای سي. «ايليس ۱۸۸۰»

## نور بيا
## معروف: معروف: يا ماروف د کندهار...

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

---

39 - MARSINZAI

40 - Anhar -i- Madozai

41 - Sagak Kotal



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ